مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحيد وحيد ۲۰۲۶/۰۱/۲۱

# کله چې مېلمه پالنه په پېغور بدله شي

له نږدې پنځه لسیزو راپدېخوا په پاکستان کې د افغان کډوالو مېشت کېدو د دغه هېواد سیاسي، ټولنیز او اقتصادي جوړښت بدل کړی دی. د تاریخ په اوږدو کې هېڅ داسې بېلګه نلرو چې د دواړو هېوادونو برخلیکونه دې دومره سره ترل شوي وي. په پاکستان کې د افغان کډوالو ځای په ځای کېدل هغه اړیکه وه چې د انسانیت پر بنسټ رامنځته شوه، خو د ناسمو نیتونو او کږو روایتونو په څېړو کې يې د بدګمانیو او بې باوریو ګڼ دیوالونه هم ودرول. د پوښتنې اړتیا ده چې نن ولې د پاکستان په سیاسي بحثونو او رسنیو کې افغانان *احسان فراموش* او *محسن ګُش* بلل کېږي. تر هر څه مخکې اړینه ده چې دغې ګډ ناورین ته په غوسه او سلیقوي چلن نه، بلکې د رېښتینولي او متوازن درک له زاويې څخه وکتل شي.

افغانان بې له شکه د پاکستان د خلکو له لورې شوې مېلمه پالنې د زړونو له کومې منی. میلیونونو افغان کډوالو کورنیو د هغوی په ښارونو او کلیو کې پناه وموندله، په داسې وخت کې چې افغانستان د شوروي یرغل په وړاندې د سپېڅلي مبارزې په کولو د مکلفیت له امله په جګړه اخته وو. پاکستاني ولسونو، په ځانګړي ډول د خیبرپښتونخوا او بلوچستان خلکو ورته خپل زړونه او غېږه پرانیسته، لږې سرچینې يې له خپلو ورونو سره شریکې کړې، او افغانان يې د خپلو ورونو په څېر ومنل. دغه سپېڅلي انساني عاطفه چې په کلتور، عقیدې او ګډ تاریخ ولاړه وه، هېڅکله باید هېره نه شي. ملتونه یوازې د حکومتونو د سیاستونو له مخې نه، بلکې د خلکو د اخلاقي چلن په شاخصونو باندې پېژندل کیږي.

توپیر دادی چې دَ سیاست په رنګونو، نیرنګونو او د ستراتېژیو په مارکیټونو کې د افغانانو ملاتړ هېڅکله د هغو ولسونو په څېر رښتیني او سوچه نه وو . د پاکستاني وګړو سخاوت منل عدالت دی، خو دا به تاریخي جفا وي چې افغان کډوال یوازې یو اړخیزه توګه په پاکستان باندې بوج وګڼل شي. هغه هم داسې بوج چې د پاکستاني حکومت دې د سوچه احساس له مخې پر اوږو وړی وی. کډوال یوازې مېلمانه نه وو؛ هغوی د یوې سترې جیوپولیټیکي معادلې برخه شول چې پاکستان ورڅخه څو لسیزې د سیاست، اقتصاد او نړیوال نفوذ په ځانګړي ډول د ستراتېژيکو موخو او د افغانستان په سیاستونو باندې د نفوذ درلودلو په برخه کې د پام وړ ګټې ترلاسه کړې.

د شوروي یرغل پر مهال د افغان کډوالو شتون پاکستان له یوه عادي سیمه‌يي دولت څخه په نړیواله کچه د لومړۍ کرښې په لوبغاړي بدل کړ. نړیوالو مرستندویه بنسټونو پاکستان ته میلیاردونه ډالر پمپ کړل، غیردولتي موسساتو پراخ ماموریتونه ترسره کړل او نړیوال ځواکمن هېوادونه د شوروي ځواکونو د یرغل په وړاندې د پاکستان د ستراتیژیک موقعیت پر محور راټول شول. پاکستان یوازې مالي مرستې نه؛ بلکې نړیوال مشروعیت، ستراتیژیک اهمیت، او په سیمه ییزو معادلو کې ځانګړې برلاسی وموندہ . د کډوالو کړکېچ د نړیوالو مرستو تسلسل توجیه کاوه، پاکستان يې په ډیپلوماتیک ډګر کې پیاوړی کړ، او د سړې جګړې په سیاسي نقشه کې يې د یوه مهم لوبغاړي حیثیت ورکړ. دا د افغانانو دعوې نه دي؛ دا مستند تاریخي حقیقتونه دي چې نه پټېدلی شي او نه باید وربانديستر ګې پټې شي.

په داسې حال کې، نن افغانان د امنیتي ګواښ یا احسان هېروونکي په نومونو یادول په هغو ګډو ګټو باندې خاورې اړوي چې د دواړو ملتونو اړیکې یې جوړې کړې وې. مننه او احسان منل یوازې یو طرفه سړک نه دی او د تاریخ پاڼې هم یوازې هغه څه نه ثبتوي چې د پاکستان سیاست پرې تکیه وکړي. د افغانانو ټولیز بې ځایه کېدو جریان او د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شوروي يرغل په وړاندي د افغان ولس مقاومت ددې لامل شو چي په دغه هېواد باندې ستره نړیواله پانګونه وشوه او د پاکستان ستراتیژیک اهمیت یې ور زیات کړ.

اوسنی بحران د افغانانو او پاکستاني خلکو ترمنځ نه، بلکي د تاریخي واقعیتونو، سیاسي مانورونو او د ناکامو استخباراتي روایتونو ترمنځ د ټکر او پیچلتیاو کیسه ده. حکومتونه تل خپله ناکامي پټوي او خپلې قرباني غټوي. ننني رسمي بحث په پاکستان کي د کډوالو اقتصادي بوج برېنډوي او امنیتي نیمګړتیاوې بانه ګرزوي، خو په خپلو ناکامو تګلاره پرده اچوي، د څو لسیزو اوږدمهاله مالي مرستي، نړیوال ملاتړ او ستراتیژیک فرصتونه نه یادوي چي د همدغه بحران په نتیجه کي پاکستان ترلاسه کړې وو. افغانان داسي هم نه دي چي د سیاسي کیسو ساده شوې نسخه ونه پیژني او نه هم داسي چي احسان د تلپاتې سیاسي غلامي نوم وګڼي.

مېلمه‌پالنه هغه مهال خپل لوړ اخلاقي ارزښت له لاسه ورکوي او د احسان له دائرې څخه وزي چي دغه عاطفي او انساني ځانګړتیا د فشار او برلاسي د وسیلي په توګه وکارول شي. هغه مرستي بیا خپله اهمیت بایلي او په یوه نفسیاتي بار او پیغور بدلېږي چي په ملت تحمیلېږي، د مرستي ترلاسه کوونکی د سپکاوي او تمسخر د یوې بې‌ارزښته آلې په توګه انځورېږي. افغانان باید د پاکستاني ولسونو مرسته مني، خو دغه مرستي د نمک حرام او احسان هیروونکو په څیر پیغورونو منلو ارزښت نه لري.

دواړه هېوادونه هغه مهال له تلپاتي ثبات څخه برخمن کېږي چي احساساتي تورونه، یو بل ته ګواښونه او په یو بل باندې د احسان اچولو خبره پرېږدي او خپل روایتونه په ځمکنیو واقعیتونو پورې وتړي. جرمونه او غیرقانوني کړني هر ځای کېږي، خو دا د ملتونو هویت نه وړاندې کوي بلکي د افرادو کړني ګڼل کېږي. عدالت دا نه دی چي د کډوالو ټولنه د څو افرادو د کړنو مسئوله وګڼل شي، په ځانګړي ډول هغه وخت چي کډوال پخپله د پاکستان تر ټولو زیانمنونکي قشر وي. افغان کډوال په ټولیز ډول د پاکستان د امنیتي ستونځو سرچینه نه وو او نه باید وي. د دغو ستونځو ریښي په هغو ناکامو پالیسیو کي نغښتي دي چي د پاکستان لخوا د ستراتېژیک ژوروالي ترعنوان لاندې پیل شوې وې.

که پاکستان غواړي د امنیتي ستونځو حل وموميي، نو د عام ولس د تورنولو او افغانانو ته د پړې ګوته نیولو پرځای باید خپله ستراتیژي په ریښتوني ډول له سره وارزوي او افغانان هم باید د دومره اوږدې مېلمه پالنې احساساتي او دروند بار درک کړي، او د کډوالي د حل او له بې هویته حالت څخه د راوتلو لپاره عملي ګامونه واخلي. د خپلو تګلارو له سره ارزونه دواړو هیوادونو او د کډوالو ټولني ته لازم دی.

په پای کي، د افغانستان ـ پاکستان راتلونکي هغه وخت سمون موميي چي دواړه هېوادونه له هغو روایتونو څخه راووزي چي د خلکو پر ځای سیاستونو ته ګټه رسوي. دواړه ملتونه باید له احساساتي نیوکو واوړي او معقول تعامل ته مخه کړي. د کډوالو کیسه د پاکو او ناپاکو خلکو قصه نه ده؛ دا د ګډو کړاوونو، ګډو مسوولیتونو او ګډو ګټو داستان دی. د دغو پېچلتیاو پیژندل یوازې فکري سمون او ریښتونولي نه، بلکي د باورونو د بیا رغوني بنسټ دی. پرمختګونه هغه وخت پیلېږي چي پاکستان د کډوالو، د دروازو تړلو، تجارت او ټرانزېټ مسایلو ته د فشار په وسیله نه، بلکي د دواړو هېوادونو د ګډو ګټو او ګډو اړتیاو په سترګه وګوري. کابل هم باید د کډوالو منظم ستنېدو یا ځای پر ځای کېدو لپاره کوټلي ګامونه واخلي او د امنیتي مسایلو په اړه له پاکستان سره په اوږدمهاله ډول او له درناوي ډکو خبرو کي بوخت پاتې شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالېږلو مخکي په ځیر و لولـئ